**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

**۲۷/ ذوالقعدة /۱۴۴۴هـ ق مطابق۲٦/ جوزا /۱۴۰۲هـ ش**

# مهرد ښځې خپل حق دی او شريعت د لږ مهر مقررولو ترغيب ورکړی دی.

**الحمد لله القائل فی کتابه المبين:(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ(۲۱)واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريک له.حکم فقدر وشرع فيسر.واشهد ان محمداً عبده ورسوله حث علی الزواج ورغب فی تيسيره وتسهيله لما فيه من المصالح الدينية والدنيوية والعواقب الحميدة.وقال:(يسروا ولا تعسروا وبشروا ولا تنفروا)**

**فصلی الله وسلم علی هذا النبی الکريم وعلی آله وأصحابه إلی يوم الدين.اما بعد:**

## مهر د ښځې خپل حق دی:

د اسلام د مقدس دين د ظهور څخه مخکې ښځه د هر ډول مادي او معنوي حقوقو څخه محروم وه؛ بلکې ښځې ته چا دانسان په سترګه نه کتل او د مال او متاع په څير به يې په ميراث سره وړله او دمالکيت حق يې نه درلود، کله چې پيغمبر عليه السلام په پيغمبرۍ مبعوث شو او د رسالت دروند بار ورته وسپارل شو، د اسلام د مقدس دين فرمانونه او قوانين وربانديې نازل شو، پيغمبر عليه السلام خپلو پيروانو ته يې اعلان وکړ چې ښځې د سړو په شان د حقوقو څخه برخمنې دي او دوی د ژوندی پاتې کيدو هم حق لري او د مالکيت حق لري؛ چې د هغو حقوقو له جملې څخه يو يې د مهر حق دی، مهر يواځې د ښځې حق دی او پرته دښځې د اجازته هيڅوک په مهر کې دمالکيت او تصرف حق نلري.

د اسلام په مقدس دين کې ښځو ته د هغوی د شان سره مناسب داسې حقوق ورکړل شوي دي چې په نورو اديانو کې يې ساری نه ليدل کيږي. داسلام مقدس دين ښځو ته د جاهليت د زمانې د بدو رواجونو، رسمونو ، او ظلمونو څخه نجات ورکړ. د جاهليت په زمانه کې يواځې د نکاح په مورد کې پر ښځو درې قسمه ظلمونه کيدل، درې واړه ظلمونه الله جل جلاله بند کړل.

**لومړی**، له ميړه څخه چې به مهر اخيستل کيده دا به داسې وربانديې سخته تماميدله، لکه چې دورند تاوان ورته رسيدلی وي. په ترش تندي به يې دا مهر ورکولو ، الله ورته وفرمايل: {نِحْلَةً } النساء:(٤) د زړه په شوق سره يې ورکړئ .

**دوهم** ظلم به داؤ چې دا مهر به د ښځې د اقرباؤ حق ګڼل کيده- لکه نن زمانه کې چې په افغانستان کې د خلکو ګمان دادی چې ښځه په مهر کې حق نلري او مهر څخه پرته د ښځې د مشورې او رضايت څخه د ښځې اقرباء اخلي او په اکثرو حالاتو

کې ښځه د خپل مهر هیڅ معلومات نلري- الله تعالی دا ظلم هم بند کړ:{وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِن } معنا مهر د ښځې حق دی او هغې ته یې ورکړئ.

**دریم** ظلم به داؤ چې میړه به خپله ښځه تر تاثیر لاندې راوستله ترڅو خپل مهر میړه ته وبښي؛ لکه نن صبا چې په افغانستان کې دیته ورته عمل ترسره کیږي او ښځه دی ته اړایستله کیږي چې د خپل مهر څخه تیره شي. الله تعالی دا ظلم هم بند کړ.( فان طبن لکم)

د حجة الوداع په مشهور حدیث کې راغلی دي:(فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا)، (ثُمَّ قَالَ: اسْمَعُوا مِنِّي تَعِيشُوا، أَلَا لَا تَظْلِمُوا، أَلَا لَا تَظْلِمُوا، أَلَا لَا تَظْلِمُوا، إِنَّهُ لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ). مسند أحمد

ترجمه:- بیشکه ستاسې وینه، ستاسې مالونه او ستاسې عزت پر تاسو حرام دی( له منځه وړل دهغې) لکه حرمت ددې ورځې ستاسې ، په دې میاشت ستاسې کې ، په دې ښار ستاسې کې( مکه مکرمه)، بیایې وفرمایل: زما خبره واورئ چې ژوند وکړی، خبردار! په خپلو منځو کې یو پر بل ظلم مه کوئ دری ځله یې داخبره تکرار کړه، بیشکه حلال نه دی مال د بل کس، مګر د هغه د زړه په خوښۍ سره.

همدا راز منکوحې ښځې ته مهر ورکول د نکاح او زنا ترمنځ د توپیر ښکاره دلیل دی. په جاهلیت کې به خاوند د منکوحې ښځې خپلوانو ته مال ورکولو چې (حلوان) به یې ورته ویلی ، چې اسلام دا عمل باطل کړ او مهر یې خاص د منکوحې ښځې حق وګرځولو او مهر باید منکوحې ښځې ته ورکړل شي او د منکوحې ښځې د ولي او خپلوانو په کې هیڅ حق نشته. د جاهلیت په زمانه کې په دوه قسمه خلکو باندې زیات ظلم کیده، یوه ښځه او بل یتیم.

د النساء په سورت کې ددې دواړو ضعیفانو پر حقوقو تاکید شوی دی او ددواړو حقوق یو ځای ذکر شوي دي.

ددې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې ای الله ! زه د دوه ضعیفانو ښځې او یتیم حقوقو باندې ظلم کول حرام ګرځوم.(اللَّهُمَّ إِنِى أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ الْيَتِيمِ والمَرْأَةِ) سنن ابن ماجه، سنن النسائي

ترجمه:- ای الله ! زه حرام ګرځوم د پښو لاندې کول حق ددوه ضعیفانو یتیم او ښځې.

نن صبا خلک د ښځو په عوض کې درانه دروانه ولورونه اخلي او انجلۍ د مال جمع کولو لپاره مالي سرچینه ګڼي او انجلی هغه چاته ورکوي چې زیات دولت ولري او دینداري، اخلاق او عمر هیڅ په پام کې نه نیول کیږي.حال دا چې په حدیث شریف کې رازي:

( تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ، تَرِبَتْ يَدَاكَ).صحیح البخاری

ترجمه:- عادتاً به نکاح کیږي ښځې د څلورو خبرو لپاره د هغې دمال په وجه، د هغې د حسب په وجه، د هغې د ښایست په وجه او د هغې ددین په وجه. پس ځان کامیاب کړه په دینداره ښځې باندې ( یعنی دینداره ښځه غوره کړه)، په خاورو دې ککړ شي دواړه لاسونه ستا (که دا کار دی ونه کړ).

بناءً د ولي لپاره لازم ده چې خپله لور یا خور دینداره او متدین شخص ته په نکاح ورکړي.
په یو روایت کې د حضرت جلیبیب رضی الله واقعه داسې راغلی ده: (عَنْ أَنَسٍ قَالَ: خَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جُلَيْبِيبٍ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ إِلَى أَبِيهَا، فَقَالَ: حَتَّى أَسْتَأْمِرَ أُمَّهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَنَعَمْ إِذًا " قَالَ: فَانْطَلَقَ الرَّجُلُ إِلَى امْرَأَتِهِ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهَا، فَقَالَتْ: لَاهَا اللهُ إِذًا، مَا وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا جُلَيْبِيبًا وَقَدْ مَنَعْنَاهَا مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانٍ؟

قَالَ: وَالْجَارِيَةُ فِي سِتْرِهَا تَسْتَمِعُ. قَالَ: فَانْطَلَقَ الرَّجُلُ يُرِيدُ أَنْ يُخْبِرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، فَقَالَتِ الْجَارِيَةُ: أَتُرِيدُونَ أَنْ تَرُدُّوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَهُ؟ إِنْ كَانَ قَدْ رَضِيَهُ لَكُمْ، فَأَنْكِحُوهُ قَالَ: فَكَأَنَّهَا جَلَّتْ عَنْ أَبَوَيْهَا، وَقَالَا: صَدَقْتِ. فَذَهَبَ أَبُوهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ قَدْ رَضِيتَهُ فَقَدْ رَضِينَاهُ. قَالَ: " فَإِنِّي قَدْ رَضِيتُهُ ". فَزَوَّجَهَا، ثُمَّ فُزِّعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ، فَرَكِبَ جُلَيْبِيبٌ فَوَجَدُوهُ قَدْ قُتِلَ، وَحَوْلَهُ نَاسٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ قَتَلَهُمْ، قَالَ أَنَسٌ: " فَلَقَدْ رَأَيْتُهَا وَإِنَّهَا لَمِنْ أَنْفَقِ ثَيِّبٍ فِي الْمَدِينَةِ ). مسند أحمد

ترجمه:- د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جليبيب رضي الله عنه لپاره د انصارو د يوې ښځې په اړه د هغې پلار ته مرکه وکړه. هغه سړی وويل: زه به يې د مور څخه اجازه واخلم. پيغمبر عليه السلام وويل:

داسې سمه ده. راوي وايي چې هغه سړی لاړ خپلې ښځې طرف ته. دا خبره يې هغه ښځې ته ذکر کړه . هغه ښځې وويل: دا خبره داسې نه کيږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته له جليبيبه بل څوک پيدا نکړل؟ حال دا چې مونږ دا لور د فلاني او فلاني څخه منع کړه. راوی وايي چې هغه انجلی په پرده کې دا خبرې اوريدلی. هغه سړی واپس روان شو غوښتل يې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خبرې څخه خبر کړي. هغه انجلی وويل: آيا تاسو غواړئ چې د رسول الله صلی الله خبره رد کړئ؟ که چيرې رسول الله صلی الله ستاسو لپاره په دې خبره راضي وي ورته په نکاح يې ورکړئ لکه چې هغې د مور او پلار لپاره دا غوره وګڼله او دواړو وويل: تاريښتيا وويل: د هغې پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی او وه يې ويل: که چيرې ته وربانديې راضي يې، مونږ هم وربانديې راضي يو. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: زه وربانديې راضي يم. بيا يې هغه ته ورکړه. بيا اهل مدينه وو ته ددښمن څخه ويره پيدا شوه، جليبيب په آس بانديې سپور شو ( او ددښمن لوری ته ورغی) صحابه وو جليبيب په داسې حال کې وموندلو چې هغه شهيد شوی ؤ او شا او خوا يې هغه مشرکين پراته ؤ چې هغه وژلی ؤ.

همدا رنګه د حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله څخه عبدالملک بن مروان بادشاه د هغه د لور مرکه وکړه د خپل زوی لپاره، په هغه وخت کې په شلو زرو درهمو، سعيد ابن المسيب لور ورنه کړه. يو څه موده پس د هغه شاګرد ابو وداعه رح دری ورځې سبقو ته رانغی په څلورمه ورځ چې حاضر شو ده ورڅخه پوښتنه وکړه چې دا دری سبقه دې ولی قضا کړل؟ هغه وويل: زما ښځه وفات شوی وه په هغې مصروف وم، استاد ورته وويل بله ښځه دی ونه کړه؟ شاګرد ورته وويل: زه دوه درهمه لرمه په دې خو ښځه نه کيږي. استاد ورته وووېل: چې زه يې درکوم، دستي يې خطبه وويله: ابو وداعه رح چې کورته ولاړی په فکر کې غرق شو چې دا پيسې به له کوم ځای کومه؟ دروازه وټکيدله چې راووت دده استاد ولاړ دی او لور ورسره ده، ورته يې وويل دا ستا ښځه ده کورته يې بوزه.[حلية الاولياء]

د آزاد انسان خرڅول په عظيمه ګناه ده لکه د نن صبا رواجي ولور.په يو قدسي حديث شريف کې راځي:عن أَبي هريرة - رضي الله عنه - ، عن النبيّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ :( قَالَ الله تَعَالَى : ثَلاَثَةٌ أنا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ : رَجُلٌ أعْطَى بي ثُمَّ غَدَرَ ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرّاً فَأَكَلَ ثَمْنَهُ ، وَرَجُلٌ اسْتَأجَرَ أجيراً ، فَاسْتَوفَى مِنْهُ ، وَلَمْ يُعْطِهِ أجْرَهُ) . رواه البخاري

ترجمه:- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي؛ چې الله تعالی فرمایلي دي: د قیامت په ورځ به زه د درې کسانو سره جګړه کوم، یو هغه کس چې زما په نوم دښمن ته آمان ورکړي او بیا په کې خیانت وکړي. بل هغه کس چې آزاد انسان وپلوري او پیسې یې وخوري. او بل هغه کس چې څوک په مزدورۍ ونیسي کار ورڅخه واخلي او مزد یې ور نه کړي.

د انجلۍ په عوض کې پیسې اخیستل حرام کاردی. علامه ابن عابدین رح وایې:(وَمِنْ السُّحْتِ : مَا يَأْخُذُهُ الصِّهْرُ مِنْ الْخَتَنِ بِسَبَبِ بِنْتِهِ بِطِيبِ نَفْسِهِ). رد المحتار

ترجمه:- حرام خبیث هغه مال دی چې اخلي یې خسر د زوم څخه په سبب د لور خپلې په خوښۍ سره.

په دې مال کې د ولور هم شامل دی او هغه مصارف هم شامل دي خسر یې د زوم له جانبه اخلي.

څوک چې د زوم د کورنۍ څخه پیسې اخلي دا به ددوه حالتونو څخه خالي نه وي یا به یې د مهر په نوم اخلي چې دا یواځې د منکوحې ښځې خالص حق دی او پرته د منکوحې ښځې له اجازته بل چاته جائز نه دي چې د هغې مهر واخلي او په جیب کې یې واچوي او یا به یې د ولور په نوم اخلي چې دا هم حرامې پیسې دي.

محترم شیخ الحدیث دوکتور مولوی نور محمد (ثاقب) حفظه الله د یو سوال په ځواب کې لیکلي دي: ( کوم مقدار مهر چې د ښځې له طرفه پر زوج باندې لازم شي له هغه څخه سوا نور شی غوښتل حرام او رشوت دی.[بدر الفتاوی]

## په مهر کې د منکوحې ښځې د پلار تصرف:

د منکوحې ښځې پلار یا بل کوم خپلوان نشي کولای چې دښځې په مهر کې پرته د ښځې د اجازت څخه داسې تصرف وکړي چې یا یې د ښځې خاوند ته یا بل چاته وبښي.

امام کاساني رح په دې اړه وایي: (فَدَلَّ ذلك كُلُّهُ على أَنَّ مَهْرَهَا مِلْكُهَا وَحَقُّهَا وَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَهَبَ مِلْكَ الْإِنْسَانِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ الْوَلِيُّ هِبَةَ غَيْرِهِ من أَمْوَالِهَا فَكَذَا الْمَهْرُ). [ البدائع والصنائع]

ترجمه:- دا ټول په دې دلالت کوي چې مهر د منکوحې ښځې ملکیت او حق دی او بل چاته جائز نه دي چې وبښي د انسان ملکیت بل چاته وبښي بدون د هغه داجازت څخه. له دې امله لکه څرنګه چې ولي ددې واک نلري چې هبه کړي د هغې ښځې مال بل چاته، همداسې مهر هم دی.( یعنی نشي هبه کولای مهر د هغې بل چاته).

آن تردې پورې چې فقهاوو لیکلي دي، که چیرې کوم خاوند خپلې ښځې ته د هغې معجل مهر ورنه کړي، منکوحه ښځه کولای شي چې د پوره مهر د ترلاسه کولو پورې ځان خاوند ته تسلیم نه کړي.[البدائع]

## اسلامي شریعت د لږ مهر مقررولو ترغیب ورکړی دی:

واده کول د ژوند ضرورت دی ؛ ځکه په واده سره د دین او دنیا مصالح تر لاسه کیږي، واده د فرد او ټولنې ترمنځ رابطه ټینګوي ، د اجتماعي ژوند زیات کارونه نکاح سره تړلي دي، په واده کولو سره د خلکو ترمنځ محبت او مینه زیاتیږي چې دا دالله تعالی لوی نعمت دی.الله تعالی فرمایلي دي:{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ }.الروم: ۲۱
ترجمه:او د هغه د نښو ځینې دادي چې تاسو لپاره یې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پیداکړې دي، ددې لپاره چې تاسو هغو ته(په مایله کیدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې مینه او مهرباني پیدا کړه ، بیشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي.

په واده سره د مسلمانانو نفوس زیاتیږي چې نبي علیه السلام د خپل امت په زیاتوالي په آخرت کې افتخار کوي.

واده سره د مسلمان دین کامل کیږي او د سترګو عفت رامنځ ته کوي.

په واده کولو باندې الله تعالی امر کړی دی. { فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ }. النساء:۳

ترجمه:- پس هغو ښځو سره نکاح وکړئ چې ستاسو خوښې وي دوه دوه ، یا دری دری یا څلور څلور.

په یو بل مبارک ایت کې راځي:{ وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ } النور:۳۲

ترجمه:- او په تاسو کې د بې واده خلکو (ښځې وي او که سړي) نکاح کوئ او په خپلو مريانو او وينځو کې د نيکانو او صالحو (هم نکاح کوئ) که چیرې (دغه ذکر شوي خلک) فقیران وي (نو) الله بـه دوی د خپـل فضـله غنیـان کـړي او الله تعالی د فراخۍ والا ،ښه عالم دی.

ددې دنیوي او اخروي فوائدو د وجی نه پیغمبر علیه السلام ځوانانو ته د واده کولو امر کړی دی او داسې فرمايي: (يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج ، فإنه أغض للبصر ، وأحصن للفرج ، ومن لم يستطع فعليه بالصوم ، فإنه له وجاء). متفق عليه .

ترجمه:- څوک چې ستاسو څخه د نکاح(کوروالي) توان لري نو نکاح دې وکړي، بیشکه نکاح ښکته کوونکی دی سترګو لـره او ساتونکی دی مخصو ص اندام لره له زنا څخه او څوک چې توان د نکاح کولو نلري په هغه لازمه ده روژه نیـول ، ځکـه روژه دده لپاره قطع کوونکی د شهوت ده.

د زيات مهر مقررول ددې ټولو کارونه مخه نيسي او په اجتماعي ژوند کې ډول ډول مشکلات زیږوي.

په مهرونو کې مبالغه او غلو یوه ټولنیز مشکل دی چې زمونږ اکثره ټولنې وربانـدې روږدي دي . حکومت ولس او علماء بايد ددې مشکل د حل لپاره لاس په کار شي ترڅو دا ناکاره رسم له منځه لاړشي.

د مهر کمه اندازه لس درهمه دی او زیات مهر لره حد نشته ،مګر اسلامي شریعت د لږ مهر مقررولو ترغیب ورکړی دی. جمهور فقهاء وايې چې په مهر کې تخفيف سنت عمل دی او غلو په مهر کې په کار نه ده.

د اسلامي شريعت ټول فقهاء په دې متفق دي، چې درانه مهرونه مقررول د سنتو مخالفت دی.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایلي دي : (مِنْ يُمْنِ الْمَرْأَةِ تَسْهِيل أَمْرِهَا وَقِلَّةُ صَدَاقِهَا). [صحيح ابن حبان]

ترجمه:- بیشکه د ښځې د برکت څخه د هغې په کارونو (خطبه او غوښتل) اسانتیا ده او د هغې د مهر کموالی دی.

بهتره ښځه هغه ده چې مهر يې لږ وي. نبي عليه السلام فرمایلي دي: (خَيْرُهُنَّ أَيْسَرُهُنَّ صَدَاقًا).[احمد ، ابن حبان]

په یو بل حدیث کې راځي :(أَعْظَمُ النِّسَاءِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُنَّ مُئُونَةً).[مسند أحمد، الحاكم]

ترجمه:- لویه د ښځو څخه د برکت له پلوه هغه ښځې چې مصرف يې کم وي.

په لږ مهر باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترغیبي امر کړی دی او د زیات مهر په مقررولو کې دخاوند او ښځې ترمنځ د دښمنۍ لامل ګرځي.په یو مرسل حدیث شریف کې راځي: (تَيَاسَرُوا فِي الصَّدَاقِ ؛ إِنَّ الرَّجُل يُعْطِي الْمَرْأَةَ حَتَّى يَبْقَى ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ عَلَيْهَا حَسِيكَةً) مصنف عبدالرزاق

ترجمه:- اساني کوئ په مهر کې ، بیشکه سړی ورکوي ښځې ته مهر تر دې پورې چې پریـږدي مهر پـه زړه د سړي کـې د ښځې په اړه دښمني.

الله تعالی ټولو خلکو ته  د نکاح کولو ترغیب ورکړی دی او فقیرانو ته یې هم ترغیب ور کړی دی چې نکاح وکړي.

که چیرې مهر لږ وي هر څوک کولای شي نکاح وکړي فقیران به هم وکولای شي چې نکاح وکړي او دمسلمانانو نسل به هم زیات شي خو  که چیرې مهر زیات وي د نکاح کولو فرصت به هغه چا ته میسر کیږي چې زیات مال ولري او فقیران او د کم توان خاوندان به د ډیر وخت لپاره بې واده پاته شي او  عام خلک به په حرج کې وي او د مسلمانانو نسلونه به هم کم وي.

د ژوند په هره برخه کې باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي په کارده، ځکه د رسول الله صلی الله علیه د سنتو په پیروی کې خیر او برکت وي. د نبي علیه السلام د ښځو او لوڼو مهر د پنځه سوه درهمو څخه زیات نه ؤ. په یو حدیث شریف کې راځی: (عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ صَدَاقُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشًّا قَالَتْ أَتَدْرِي مَا النَّشُّ قُلْتُ لَا قَالَتْ نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَهَذَا صَدَاقُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَزْوَاجِهِ).[ أحمد، صحيح مسلم]

ترجمه:- ابو سلمه بن عبدالرحمن وایې چې ما د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهر په اړه پوښتنه وکړه چې څومره ؤ مهر د رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ هغې راته وویل: د پیغمبر علیه السلام د خپلو بیبیانو لپاره مهر دولس اوقیه او یو نش ؤ.بیایې راته وویل: ته پوهیږئ چې (نش) څه ته وایې ؟ ما ورته وویل: نه! هغې راته وویل: (نش) نیمه اوقیه ده چې دا ټول پنځه سوه درهمه کیږي او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مهر ؤ د هغه د ښځو لپاره.

امام نووي رح ددې حدیث په شرح کې وایې:( دا حدیث ددې دلیل دی چې  پنځه سوه چاندي مهر مقررول مستحب دي).

د زیات مهر مقررول هغه اجتماعي مشکل دی چې د ډیرو خلکو ذهنونه یې مشغول کړي دي او ددې وجې نه زیات ځوانان او پیغلې له واده کولو څخه پاتې وي او که څوک واده هم وکړي مجبور دی د مهر د پوره کولو لپاره خارجي ملکونو ته مسافر شي او د مهر له امله په پردو ملکونو کې د کور او وطن څخه لری پیسې وګټي او د مهر قرضونه خلاص کړي.د زیات مهر د مقررولو له امله زیات ځوانان په ډول ډول  فتنو کې پریوزي.

په زیات مهر مقررولو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر څخه مخالفت دی ؛ ځکه نبي علیه السلام د مهر او واده په ساده کولو او اسانولو امر کړی دی.

نن صبا خلک د هلک او انجلی دینداری او اخلاقو ته نه ګوري ، بلکې زیات مهر ته ګوري چې دا کار د شریعت مخالف عمل دی، بلکې په اسلامي شریعت کې د هلک دینداری او اخلاقو ته کتل په کاردي. نبي علیه السلام فرمایي:(إذا خطب إليكم من ترضون دينه،وخلقه،فزوجوه، إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض). سنن الترمذی.

ترجمه:-کله چې ستاسو څخه داسې څوک د لور غوښتنه وکړي چې تاسو یې د دین او اخلاقو څخه راضي یاست؛ نو ور ته یې ورکړئ که چیرې تاسو دا کار ونه کړی شی به دا فتنه په ځمکه کې او پراخه فساد.
زیات مهر مقررول داسې دي لکه څوک چې په بازار کې کوم جنس په پیسو رانیسي.د زیات مهر مقررول ځینې وخت ددواړو کورنیو ترمنځ صله رحمي له منځه وړي او د جګړو سبب ګرځي.
په ځینو حالاتو کې نکاح کول په مسلمان واجب ګرځي چې زیات مهر مقررول ددې مکلفیت مخه نیسي.

عمر فاروق رضی الله عنه وویل: پام د ښځو مهرونه مه زیاتوئ، ځکه په دنیا کې که یو شی د الله په نزد د عزت او تقوا سبب کېدای نو تر تاسو رسول الله ډېر په دې وړ وو. ما ته علم نه شته چې رسول الله دې یا د خپلو ښځو یا د خپلو لوڼو مهر تر ۱۲ اوقیې زیات ټاکلی وي. پنځه سوه در همه یو سل یو دیرش تولې او درې ماشي (۱۳۱,۳) سپین زر کېږي. د سپینو د یوې تولې نرخ پنځوس روپۍ شي نو پنځه سوه در همه یعني د (۱۳۱,۳) تولې سپینو شپږ زره پنځه سوه درو شپېته (۶۵۶۳) پیسې کېږي.